مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۸/۱۹

# د لوږې ځونامې

## پنځه‌دېرشمه برخه

د لوږې ځونامې ځپې هغه وخت مرګونې کېږې چې په ټولنه کې فقراو بې کارې ډېره شي او په پایله کې خبره اقتصادي او بشري ناورین او حتی خطرناکو رواني ناروغیو ته ورسېږي. که بنه ځیر شو د همدغو دلایلو له مخې جنایي جرمونه ډېرېږي او عاملین یې یا وژل کېږي یا تښتي او یا زندان ته لېږل کېږي؛ دا کارونه همدا اوس عملاً په افغانستان کې روان دي. د میډیا راپورونه وایي چې:

د تېرکال په اوږدو کې په ټول هېواد کې «۱۲۲۸۳» جنایي پېښې شوې دي. د همدې معلوماتو په باب د تاند د یو ریوټ لنډکی برخه داسې ده:

«تاند: ( جمعه، د زمري ۱۳ مه ) د کورنیو چارو وزارت لپاره د طالبانو د رژیم چارواکي وایي، چې تېر کال په ټول هېواد کې ۱۲۲۸۳ جنایي پېښې شوې دي.

د دغه وزارت لپاره د طالبانو ویاند عبدالمتین قانع زیاتوي چې په دغو پېښو کې د لاس لرلو په تور ۱۷۲۱۷ کسان نیول شوي دي...»

د افغانستان د لوږې ځونامې په لړ کې د نړیوالې ټولنې د بشري مرستو په درېدو یا کمېدو سره د افغانستان د وږو شمېر مخ په ډېرېدو دی، که یې په وخت سره مخنیوی ونه شي، بنایي بشري ناورین رامنځته شي.

د تاند دې ریوټ ته پام وکړئ:

«تاند: ( شنبه، د زمري ۷ مه ) د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق یونیسف ویلي، چې په افغانستان کې تر مني پورې د عاجلو اړمنو شمېر له ۲۹ میلیون کسانو اوښتی.

دغې اداري ویلي، چې دغو اړمنو سره عاجلې بشري مرستې اړینې دي.
یاد شوي سازمان یو ځل بیا له نړیوالو غوښتي، چې افغانستان ته د بشري مرستو په برابرولو کې همکاري زیاته کړي.

دا په داسې حال کې ده، چې د طالبانو د رژیم چارواکي د فقر زیاتیدو خبرونه کله ردوي او کله یې له تایید سره د مرستو زیاتیدو غوښتنه کوي.

د طالبانو منتقدان باور لري، چې د فقر او بشري ناورین یو اصلي دلیل د حاکم رژیم افراطي کړنې، د واک انحصار او افغانانو او نړیوالو سره نه تعامل دی.»

که خبره په همدې ډول دوام وکړي، پایله به د بیوزلو افغانانو لپاره څه وي؟

ــ د یوه اولاد خرڅول او نور پرې ساتل،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د کورنی د یوه تن د بدن د غړو لیلامول،

ـ غلا یا نورو جنایي جرمونو ته لاس غځول،

ـ کوردننه یا له وطن نه د باندې هجرت کول، چي نه کېږي،

ـ یا بل کوم غیر قانوني کار ترسره کول؟

عام خلک اوس له داسي حالت سره مخ دي چي هېڅ نه شي کولای، مځکه کلکه اسمان لرې.

ملګرو ملتونو او مرستندویو ټولنو ډېر ځلي ویلي دي چي افغانان په بد حالت کي راګیر دي، هېوادونه او مرستندویان بايد تر پخوا لا ډېري مرستي وکړي، خو... د نړیوالو سیاسي، نظامي او طبیعي پېښو په وجه مرستي یا درول کېږي یا ورځ تربلي کمېږي.

د میډیا د رپوټونو دغه څو سرلیکونه د پاسنیو خبرو تایئد په ښه وجه کولای شي:

**تاند:**

«ډبلیو. ایف. پي: افغانستان په خوراکي لحاظ تر ټولو ناوړه وضعیت لري»

**بي‌بي‌سي پښتو:**

**«د خوړو خوندیتوب په اړه د امنیت شورا ناسته، افغانستان پکي نیازمن بلل شوی»**

**بي‌بي‌سي پښتو:**

**«ملګري ملتونه: په افغانستان کي مرستندویه چارې د بوديجي له لږوالي سره مخامخ دي»**

**بي‌بي‌سي پښتو:**

**«ډبلیو ایف پي: د بوديجي کمښت له کبله مو میلیونه اړمن افغانان د مرستو له لیست ایستلي»**



بېکاري بله بلا ده چي د لوږې څوناسي ته يې وزرونه ورکړي دي چي پر ټول افغانستان باندط لکه توره بلا وغوړېږي. د کار د نشتوالي په وجه ډېری کورنۍ پوره خوراکي توکو ته لاسرسی نه لري. د بي بي سي په يو تازه رپوټ کي ویل شوي دي چي سره صلیب نړیوالي کومیتې له نړیوالي ټولني غوښتي دي چي خپل پرمختیايي پروژې بېرته پیل کړي چي د بشري ناورین د لا خرابوالي مخنیوی وشي. دا هم د بي بی سي د رپوټ يوه برخه:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

«سره صلیب پر نړیوالي ټولنې او پر هغو بنسټونو چې پرمختیایي کارونه کوي، غږ کړی چې افغانستان کې د بشري وضعیت د لانورې خرابې مخنیوي لپاره دې دې هېواد کې پانګونه له سره پیل کړي.

د نړیوالو بنسټونو د شمېرو له مخې افغانستان کې نژدې شل میلیونه کسان چې د ټول نفوس ۴۴ سلنه کېږي کافي خواړه نه لري او شاوخوا ۳۴ میلیونه چې د ټول نفوس ۷۹ سلنه کېږي بېوزله دي.

سره صلیب په دې مطلب کې د ځو معلولو افغانانو او د هغوی د کورنیو د ورځني ژوند او د دوی د ستونزو انځور وړاندې کړی او زیاتوي بېکاری په افغانستان کې روان بشري ناورین لا ناوړه کړی چې په دې ډله کې معلولین تر ټولو ډېر بد حالت کې دي.

سور صلیب وایي په تېرو دوه کلونو کې افغانستان کې د بېکارۍ شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی، د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته اقتصادي بندیزونو او له افغانستانه د پرمختیایي مرستندویه بنسټونو وتلو په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره کار موندل سخت کړي چې دایمي کار نه لري او ورځنۍ مزدوري کوي...»

ځنګه چې لیدل کېږي په افغانستان کې د لوږې څونامي د مخنیوي لپاره حالات په منفي خوا روان دی، فقر او بېوزلي ورځ تربلې د خلکو خوراکي مصؤنیت له منځه وړي. که دا کار همداسې دوام وکړي، پایله به ډېره خطرناکه وي او ګنشېر افغانان به خپل صحت او ژوند وبایلي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ